# بسم الله الرحمن الرحيم

## پوښتنې ته ځواب

## د امریکا- چین سوداگریزه هوکړه

## ( ژباړه)

**پوښتنه:**

د امریکا ولسمشر وویل: «د سوداگریزې هوکړې لومړی پړاو ښایي د جنورۍ تر ۱۵ مې وروسته ژر لاسلیک شي.» هغه نېټه چې ده تېره میاشت د لاسلیک لپاره اعلان کړې وه، هغه زیاته کړه: «زه به له چین سره د دغې هوکړې دویم پړاو تر ولسمشریزو ټاکنو وروسته بشپړوم او هڅې به کوم چې په نړۍ کې د دوو سترو اقتصاد لرونکو هېوادونو ترمنځ د څو میاشتو روانه سوداگریزه جگړه پای ته ورسوم- هغه جگړه چې په مارکېټ کې یې گډوډي را منځته کړې او نړیواله وده اغېزمنوي....» (بوابت العین، ۱۰/۱/۲۰۲۰). د چین سوداگرۍ وزارت په رسمي ډول تایید کړه، چې مرستیال ولسمشر لیو به واشنگټن ته د خپل سفر په ترځ کې د سوداگریزې هوکړې لومړی پړاو لاسلیک کړي. دا د لاسلیک په تړاو د چین د حکومت لومړی رسمي بیان دی چې مخې ته راځي. ټرمپ مخکې ویلي وه چې دی به تر لاسلیک وروسته د هوکړې د دویم پړاو په اړه د بحث په موخه له بیجینگ څخه لیدنه وکړي.... (ټرېډ کېفټن، ۱۰/۱/۲۰۲۰). ایا له دې څخه د امریکا او چین ترمنځ د سوداگریزې شخړې پای ته رسېدل نه څرگندېږي؟

**ځواب:**

د دې لپاره چې پورته پوښتنو ته ځواب ورکړو او د امریکا-چین د سوداگریزې جگړې په ماهیت پوه شو، نو په لاندې ټکو باید رڼا واچوو.

**لومړی: د موضوع شالید:**

۱- د چین پر وړاندې د امریکا تگلاره جوړوونکي په دې اند دي چې امریکا په ایرواسیا (اسیا او اروپا) کې خپل اغېز او نفوذ لري او چین ته اجازه نه ورکوي، چې له امریکا څخه په دې سیمه کې مخکې شي، ځکه دا یوه حیاتي سیمه ده او امریکا د خپلې پیاوړې تگلارې پر بنسټ په همدغه سیمه کې خپل اغېز او تسلط تضمینوي. امریکا له همدغې لارې څخه تراوسه د امریکایي بنسټونو گټې خوندي کړې دي. په ۱۹۹۱م کې د شوروي اتحاد تر ړنگېدو وروسته، د امریکا سیاسي بنسټونو د چین په تړاو دوه ډوله تگلارې جوړولې:

**لومړی:** امریکا له چین سره په دې موخه ګډ کار کوي او چین ته رول ورکوي، ترڅو د امریکا په مشرۍ د نړیوال نظم د یو مسوول برخه وال په توګه را مخې ته شي.

**دویم:** امریکا ټینګار کوي چې د چین پر نیت او اراده باید باور ونشي، چین په نهایت کې یو سیال ځواک دی چې د امریکا په مشرۍ د لوېدیځ نړیوال نظم پر وړاندې ولاړ دی.

د ۱۹۹۰م مې لسیزې په منځ کې د امریکا پالیسي جوړوونکې دستګاه چین د سیالو هېوادونو په کتار کې راوست او داسې تګلارې یې غوره کړې چې د چین د پرمختګ مخه ونیسي. د کلینټن او اوباما ادارو د چین د مخنیوي تګلاره غوره کړه او د کشر بوش او ټرمپ ادارو د چین پر وړاندې شدیده تعرضي تګلاره غوره کړه او په ورستیو کې ټرمپ له چین سره یوه خلاصه سوداګریزه جګړه پیل کړه. (فایننشل ټایمز)

۲- د امریکا د مخنیوي تګلاره دوه عمده موخې لري: لومړی، د چین د سیمه ییز ځواک کېدو مخه نیول او دویم د چین له لوري د لوېدیځ نړیوال نظم د یوې برخې د بدلولو مخه نیول دي. د دې لپاره چې یادې موخې ترلاسه کړي، امریکا په یو لړ اقداماتو لاس پورې کړ چې په هغو کې لاندې مسایل شامل دي: په تبت، ختیځ ترکستان او هانګ کانګ کې د بشري سرغړونو موضوع را پورته کول، چین د شمالي کوریا د هستوي وسلو په کړکېچ او د جنوبي چین سمندرګي په سیمه ییزو شخړو کې ښکېلول، د هند، جاپان او استرالیا هڅول چې په اسیا پاسفیک سیمه کې د چین پوځي لوړاوی او وده محدوده کړي... له پرمختللې ټکنالوژۍ څخه د چین مخنیوی... او له یوه کمربند یوه لارې پروژې څخه د چین مخنیوی.

د امریکا پالیسي جوړوونکې دستګاه د مخنیوي تګلاره د لړو بدلونونو په راوړولو سره د چین د ځواک غوښتنې مخه نیسي. که څه هم د ۲۰۰۸م اقتصادي کړکېچ او پر افغانستان او عراق د امریکا تر نیواک وروسته، امریکا درک کړه چې د مخنیوی تګلاره بسنه نه کوي او پرېکړه یې وکړه، چې یاده تګلاره نوره هم پیاوړې کړي. د اوباما د ستراتیژۍ چې په «د اسیا ستراتیژي» هم مشهوره ده موخه دا وه، چې پوځي تجهیزات او ځواکونه له اروپا څخه اسیا او پاسفیک سیمو ته ولېږدوي او د چین پوځي وړتیاوې ونګوي. وروسته ټرمپ د چین اقتصاد نیغه په نیغه په نښه کړ او د ده ادارې چین د پولي واحد ناوړه کاروونکی وباله او له بیجینګ سره یې سوداګریزه جګړه پیل کړه او داسې هڅې یې وکړې چې د نړیوالو اصولو پر بنسټ د چین مخه ونیسي. (بي بي سي).

**دویم:** د امریکا او چین ترمنځ سوداګریزه جګړه:

۱- لکه څنګه مو چې مخکې یادونه وکړه، امریکا د چین د ودې د مخنیوي په موخه له یاد هېواد سره سوداګریزه جګړه پیل کړه، نو د دواړو اقتصادي ځواکونو ترمنځ د سوداګریز کسر له امله سوداګریزې جګړې نور هم زور واخیست، ځکه چې امریکا له چین څخه د ۵۵۸ میلیاردو ډالرو په اندازه توکي او خدمات واردوي او په بدل کې یې چین له امریکا څخه د ۱۷۹ میلیاردو ډالرو په اندازه توکي او خدمات واردوي (د امریکا د سوداګرۍ پلاوی). که څه هم د دې لپاره چې لومړی خپلې ګټې ترلاسه کړي، د دواړو ترمنځ د نظرونو یووالی شته دی!

۲- په دې وروستیو میاشتو کې د امریکا او چین ترمنځ قسمي سوداګریزه هوکړه ترسره شوه، «چې د تېر کال راهیسې په نړۍ کې د دوو اقتصادي ځواکونو ترمنځ سوداګریزې جګړې ته د پای ټکی ایږدي. ټرمپ مخکې ویلي و چې د سوداګریزې هوکړې دغه پړاو به د بشپړې هوکړې کابو ٦۰سلنه په بر کې ونیسي او له دې څخه داسې انګېرل کېږي چې چین به د امریکایي کرهنیزو محصولاتو ډېره برخه وپیري او په بدل کې به امریکا پر چینایي توکو لګول شوې تعرفې راکمې کړي....» (العربیه الجدید، ۵/۱/۲۰۲۰). العربیه نیټ د ۲۰۱۹م کال ډیسمبر پر ۱۵ مه داسې لیکلي دي: «په نړۍ کې د دوو سترو اقتصادي ځواکونو ترمنځ د سوداګریزې جګړې له پیل څخه ۲۱ میاشتې وروسته، امریکا له چین سره د سوداګریزې هوکړې لومړي پړاو ته ورسېده، خو یاده هوکړه به له راتلونکې جنورۍ مخکې لاسلیک نه شي. د دغې هوکړې له مخې، امریکا منلې چې د ۱۲۰ میلیارده ډالرو په ارزښت د چینایي توکو پر وارداتو باندې ۱۵سلنه تعرفه تر نیمایي پورې را کموي، خو د ۲۵۰ میلیاردو ډالرو په ارزښت د چینایي وارداتو باندې ۲۵سلنه تعرفه همداسې پر خپل ځای پاتې کېږي. له بل لوري امریکا به پر چینایي محصولاتو د ۱٦۰ میلیاردو ډالرو په ارزښت ۱۵سلنه نوې تعرفې لګوي چې د ماشومانو د لوبو توکي او ځیرک ټلیفونونه به هم پکښې شامل وي او له نن وروسته به د پلي کېدو وړ وي. بیجینګ همداراز هوکړه وکړه چې په راتلونکو دوو کلونو کې به نور اضافه امریکایي توکي او خدمات لږ تر لږه د ۲۰۰ میلیاردو ډالرو په ارزښت له امریکا څخه چین ته واردوي. همدا راز چین به سر له ننه پر ځینو امریکایي توکو اضافه تعرفې ختموي او پر ګاډو ۲۵سلنه او پر امریکایي پرزو ۵سلنه لګول شوي اضافه ګمرکي مالیات به ځنډوي. چین دا هم څرګنده کړې چې د ۱۲٦میلیاردو ډالرو په اندازه پر امریکایي تولیداتو باندې به ګمرکي مالیه نه اچوي، له دې سره په څنګ کې یې دا هوډ هم کړی چې د امریکا د زراعتي تولیداتو پېر به په کال کې نږدې ۵۰ میلیاردو ډالرو ته لوړوي.» ټرمپ لېواله دی چې د زراعتي محصولاتو د صادراتو لپاره یو مخ پر وده بازار پیدا کړي، ځکه دی په ۲۰۲۰م کال کې کې ولسمشریزې ټاکنې په مخ کې لري او نه غواړې په قرضونو کې د غرقو شویو بزګرانو رایې له لاسه ورکړي، ځکه په دې وروستیو کې د زراعتي محصولاتو بازارونه ساړه شوي وو. تر دې وړاندې البیان نیوز ویب پاڼې یو ریپورټ خپور کړی و: «د چین د سوداګرۍ وزرات د جمعې په ورځ ناوخته په یوه بیان کې څرګنده کړه چې دا تړون د مساواتو او دوه اړخیز احترام له مخې شوی دی او په دې کې نهه موارد شامل دي: پېلیزه، د

مالکیت حقوق، د ټکنالوژۍ تبادله، خواړه او زراعتي تولیدات، مالي خدمات، مالي تبادله، د سوداګرۍ پراختیا، دوه اړخیزه همکاري او په ګډه د ستونزو حلول او په پای کې قوانین.» (البیان نیوز، ۲۰۱۹/۱۲/۱۳)

۳: البته دا په دې معنا نه ده چې دا ترونونه به د دواړو اړخونو د اقتصادي جګړې ناورین ته د پای ټکی کېږدي، ځکه اقتصادي جګړه د چین د کنټرول اصلي اسلوب نه دی، بلکې د پردې تر شا د امریکا د اقتصاد لپاره خورا خطرناکه حالت نړیوال لومړیتوب دی. چین په پنځم نسل ټکنالوژۍ کې خورا پرمختګ کړی دی، په تېره بیا د راتلونکي نسل په بیسیم مخابراتو او د مصنوعي ځیرکتیا په برخه کې. د امریکا د دفاعي نوښتونو بورډ چې د الفابیټ پخوانی رییس اریک شمیت، د لنکډن بنسټګر ریډ هوفمن، د اسپن اداري پخوانی اجرایوي مشر او لیکوال والټر ایزیکسن یې غړیتوب لري، لیکي: «د پنځم نسل ټکنالوژۍ په برخه کې مخکښ هېواد به په راتلونکې لسیزه کې په سلګونو میلیارډه ډالر ګټه وکړي او د بیسیم ټکنالوژۍ په برخه کې به پراخې دندې رامنځته کړي... هر هغه هېواد چې د پنځم نسل ټکنالوژۍ په خپل لاس کې واخلي د دغو نوښتونو امتیاز به هغه ته ورګرځي او د پاتې ټولې نړۍ لپاره به معیارونه ټاکي. البته د ځینو دلایلو پر بنسټ، اوسمهال به دا هېواد امریکا نه وي.» (ZDNet).

۴: د معلوماتو په موخه، پنځم نسل «G5» فوق العاده لوړسرعت لرونکی دی، لکه څنګه چې (څېړونکو د G5 ټکنالوژۍ پر مټ د ترسره شویو ازمایښتي مخابراتو د پایلو په اعلان کې د دغې ټکنالوژۍ سرعت ثبت کړی دی، چې په یوه ثانیه کې یو تیرا بایټ دی او دا سرعت له اوسني سرعت څخه ۲۰۰ ځلې زیات دی. د بریتانیا د سیوري پوهنتون د نوښتونو مرکز د پنځم نسل ټکنالوژۍ په اړه یوه څېړنه ترسره کړه. دوی وکولی شول یو فایل چې تر یوه بشپړ فلم ۱۰۰ ځلې لوی و، یوازې په ۳ ثانیو کې را ډاونلوډ کړ. دا نوی سرعت د G4 ټکنالوژۍ د ډاونلوډ تر سرعت ٦٥ زره ځلې تیز دی. هغه الې چې سږ کال انټرنټ ته ترلي دي، شمېره به یې له ۵۰ څخه ۱۰۰میلیاردو الو ته ورسېږي، نو د دومره سترو او پراخو فریکونسیو د امواجو لپاره نویو توکیو ته اړتیا ده. دا چې په تخنیکي لحاظ G5 څه ډول کار کوي، د ټکنالوژي په ډګر کې یوه اصطلاح د «MIMO» په نامه شته چې د «ګڼ-اینبودنې ګڼ-ایستنې» مانا لري او مفهوم یې دا دی چې هر څومره ډېره هڅه کوې په همغه اندازه به ډېر معلومات په لاس راوړې. دا د عملیاتو په اغېز کې د پنځم نسل د معیارونو له مخې مهم رول لوبوي. MIMO ټکنالوژي وړوکي انتن ته اړتیا لري، ترڅو وکولی شي د ډاټا جریان جاري وساتي. سمسنګ کمپنۍ پر دې ټکنالوژي اوس تکیه کړې ده، ترڅو د ډاټا د ډاونلوډ ښه سرعت ولري او G5 بیا د دې لپاره تر ټولو غوره دی.») (العرب، ۲۰۱۷/۰۸/۱۳).

۵: شمیت په ۲۰۱۷م کال کې په نړیواله اقتصادي غونډه کې په خپلو خبرو کې وویل: «دا لرې نه ده چې چین به د مصنوعي ځیرکتیا په برخه کې تر امریکا وړاندې شي او امریکا به شاته پرېږدي.» (نړیواله اقتصادي غونډه.) مصنوعي ځیرکتیا خپل ځان په دې توګه راښیي:

ـ د مصنوعي ځیرکتیا څخه د مشتري د ستونزو په ژر اورېدو او په چټکه او اغېزمنه توګه د ستونزې په حلولو او اغېزمنو ځوابونو په برابرولو کې کار اخیستل کېږي.

ـ د مصنوعي ځیرکتیا استعمال د حساسو معلوماتو په تجزیه کې مرسته کوي، ترڅو په پروګرامونو کې اغېزمنتوب رامنځته شي.

متخصصین په دې برخه کې خورا لېواله دي او په راتلونکو څو کلونو کې د مصنوعي ځیرکتیا په برخه کې د ډېرې پانګونې خبر ورکوي. ډیلویټ اټکل کوي چې تر ۲۰۲۱م کال پورې به د مصنوعي ځیرکتیا په برخه کې ۵۷،٦ میلیارډه ډالر ولګول شي، چې دغه اندازه به د ۲۰۱۷م کال په اندازه پنځه ځلې زیاته وي.

٦: دا د حیرانۍ وړ خبره نه ده، چې ټرمپ په ښکاره د هواوې شرکت مخالفت کوي او همدا هواوې شرکت G5 ټکنالوژي تولیدوي. ټرمپ څو ځله د دغې چینايي کمپنۍ د خطرونو په اړه خبرداری ورکوي. ټرمپ د ناټو په تېره غونډه کې وویل: «زه فکر نه کوم چې دا به یو امنیتي ګواښ وي، بلکې دا کمپنۍ یو ښکاره خطر دی.» (Business Insider) له همدې امله امریکا پر ګڼو لویدیځو هېوادونو (ایټالیې، برتانیې، جرمني او نورو) فشاره راوړی، ترڅو د پنځم نسل ټکنالوژۍ په وسایلو کې د هواوې کمپنۍ له شاملولو څخه په کلکه ډډه وکړي. ټرمپ دا پلمه کوي چې دا کمپنۍ امنیتي اصول نه په پام کې نه نیسي. امریکا همدا راز له کاناډا څخه غوښتي چې د هواوې کمپنۍ د مالي برخې مشر مینګ وانژو په دې تور ونیسي، چې هغه پر ایران د امریکا له لګول شویو بندیزونو څخه سرغړاوی کړی دی او مات کړي یې دي. امریکا دې ته لیواله ده چې د چین پنځم نسل ټکنالوژي پر مخ بنده کړي او ټرمپ همداراز پر چین د سیلیکان چیپونو پلورل بیخي بند کړي دي.

۷: چین د خپل ۲۰۲۵م پلان له مخې چې له ډېر پخوا یې کار ورته کړی، غواړي د ټکنالوژۍ په برخه کې پر ځان بسیا شي، خو دا چې امریکا له هواوې او نورو چینايي کمپنیو سره څه ډول چلند وکړ، دې چلند چین په خپلو هڅو کې لا ګړندی کړ او غواړې د ټکنالوژۍ په خورا مهمو برخو کې پر ځان بشپړ بسیا شي. چین اعلان وکړ چې دوی به تر ۲۰۲۲م کال پورې خپل کاریال سیسټم (Operating System) جوړ کړي او نور به په دې برخه کې ای بي ایم، مایکروسافټ، ډیل او نورو امریکایي کمپنیو ته اړ نه وي. تر دې ورهاخوا چین په دې لټه کې دی، ترڅو خپل سیلیکان چیپونه جوړ کړي. چین د زرګونو تایواني چیپ جوړونکو انجینرانو تنخواوې دوه

چنده کړې او هغوی هم په تېرو څو کلونو کې چین ته تللي دي. امریکايي څېړونکي په دې باور دي چې چین به له راتلونکو پنځو څخه تر اوو کلونو پورې د چیپ په صنعت کې پر ځان بسیا شي. د دغو اټکلونو له مخې بیجینګ به د مصنوعي ځیرکتیا په برخه کې خپل اقتصاد ته ډېر کار وکړلی شي.

۸: امریکا خپلې ټولې هلې ځلې کوي، ترڅو د پنځم نسل ټکنالوژۍ او مصنوعي ځیرکتیا په برخو کې تر چین وړاندې شي؛ ځکه دا ټکنالوژي دومره مهمه ده لکه د بخار ماشین، بریښنا او سیلیکان چیپ. دا ټکنالوژي د تولید او اقتصادي پرمختګونو ماشین دی. بیا هم، دا اوسنۍ اقتصادي جګړه د امریکا او چین تر منځ د اقتصادي ناانډولۍ له امله نه، بلکې د ټکنالوژۍ جګړه ده، په ځانګړي ډول د پنځم نسل ټکنالوژي جګړه. د اوسنیو اټکلونو له مخې موږ ویلی شو، چې نړۍ به د تکنالوژیکي سیستمونو له مخې پر دوه قطبونو وویشل شي: لوېدیځ چې مشري به یې امریکا کوي او پاتې نړۍ چې رهبري به یې چین کوي. که چېرې د چین ټکنالوژي په ایروشیا سیمه کې برلاسې شي، بیا نو امکان شته چې چین په دغه سیمه کې د امریکا لومړیتوبونو ته ګواښ پېښ کړي.

بیا هم، د امریکا او چین تړون که څه هم په راتلونکي کال کې به په ټولو پړاونو کې لاسلیک شي، لکه څنګه چې ټرمپ وویل: «زما اداره به د امریکا او چین د سوداګریزې هوکړې د دویم پړاو خبرو اترو لپاره ډېر ژر تیارۍ ونیسي، خو زه به د دغه تړون د بشپړولو لپاره د نومبر میاشتې ولسمشریزو ټاکنو تر ختم پورې په تمه شم....» (بوابات العین ۲۰۲۰/۱/۱۰). که څه هم دا تړون به په خپل وروستي پړاو کې لاسلیک شي، خو داسې تمه کېږي چې لنډمهالی به وي، په تېره بیا د پنځم نسل ټکنالوژي په برخه کې؛ ځکه امریکا چین د خپل یو سیال په توګه نه شي زغملی، البته چین به یې وزغمي، خو د امریکا بېځایه غرور به امریکا ته اجازه ور نه کړي چې چین د یو سیال په توګه ومني !!

**د جمادي الاول ۱۷مه ۱۴۴۱ هجري قمري**

**۲۱/۰۱/۲۰۲۰ میلادي**